ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

BY NC

**ڈاکٹر مظہر احمد**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی
**ڈاکٹر شیر زمان سیماب**
اسسٹنٹ پروفیسر ، پشتو اکیڈمی، پشاور یونیورسٹی
**پاغندہ مختیار**
ریسرچ آفیسر، پشتو اکیڈمی، پشاور یونیورسٹی

# پښتو ټپه کښې توهم پرستي

**Dr.Mazhar Ahmad**
Assistant Professor at Pashto department Univeristy of Malakand.
**Dr. Sher Zaman Seemab**
Assistant Professor, Pashto Academy University of Peshawar.
**Paghunda Mukhtiar**
Investigative Research Officer, Pashto Academy University of Peshawar.

***Corresponding Author:**

## Superstition in Pashto Tapa

Abstract.
Thousands of years ago, human life was completely different. In terms of genres, Pashto literature has an easy and flowing genre through which the talk is easily understood. Pashto Tapa is the spokesperson for the environment and people's thoughts and feelings. Pashto Tapa is the guardian of Pashtun traditions.
The superstition found in the Pashtun nation is also found in the Pashto Tapa among other things. In this article, the superstition in the Pashtun nation is being brought to the fore through tippa. There are more superstitions among the Pathans compared to other nations, the main reason for this is the presence of Hindus in this region, this is the reason why there is a mention of the superstitions of the Pakhtuns in the Pashto Tapa in the literary genres, which has been included in this article.

**Key Words:** *Pashto Tapa, Superstition, Literature*

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12
ماخذ تحقیقی مجلہ

د نن نه په زرګونو کاله وړاندې د انسانانو د ژوند معيار څنګه ؤ؟

په دې حقله د علم بشريات ماهرين يو خله نه دي او هر چا د خپلې اندازې مطابق په دغه ميدان کښې د خپل فکر نيلي زغلولي دي۔ په دې حقله د يوې ډلې دا خيال دے چې اول اول به انسانان په غرونو او ځنګلونو کښې پاتې کېدل۔ د بارانون، طوفانونو، يخنۍ، ګرمۍ او خونخوار ځناورونه د بچ کېدو د پاره به په غارونو کښې پټېده۔ د ژوندي پاتې کېدو د پاره به ئې د ونو پاڼې، تخمونه او مېوې خوړې، د غم او خوشحالۍ په وخت کښې به ئې د مخصوصو اوازونو نه کار اخستو، زور اور متېه ور او زړه ور به د خپلې ټولنې مشر وه۔ ژوند په مخه روان ؤ او انسان د غار دخلې نه د ترقۍ مزل شروع کړو او تر ښاره رااورسېدو۔ او د ترقۍ دغه مزل لا په مخ په په وړاندې روان دے۔ ولې نن مونږ په لکهونو کاله وړاندې د انسانانو د ژوند د معيار، د هغوئ د فکر انداز، ناستې پاستې، خوراک، جامه پيزار، دودونو دستورونو، عقيدو، غم ښادو، او جرګو مرکو اؤ نور ډېر داسې څيزونه دي چې د هغې په حقله مونږ په يقين سره څه نه شو وئيلے البته

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12



زمونږ سره فولکور واحد یو داسې ذریعه ده چې په دې باره کښې زمونږ راهنمائي کولے شي۔

پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین په خپل کتاب "روهی سندرې" کښې لیکي:

> فوکلور هغه علم دے چې د اولسي ژوند او ادبي تاریخ د نامعلومه لرغوني دورونو سره تعلق لري۔[1]

د بدقسمتۍ نه پښتانۀ په یوه داسې خاوره ژوندکوي چې وخت په وخت پرې د زمانې د انقلابونو سېلابونه راغلي او د ځان سره ئې دنورو څیزونو نه علاوه د پښتنو د علم و ادب د کتابونو قیمتی ذخېرې هم پۀ مخه اوړې دي او نن زمونږ سره د اسلام د نور د راتلو نه وړاندې زمانې د پښتو د لیک څه لیکلے ثبوت نشته او مونږ مجبوراً د پښتنو ژوند ژواک په فوکلور کښې لټوو۔ دَ پښتو داولسي ادب په صنفونو کښې تر ټولو نه اسانه، روانه او زړه ته پرېووتونکې ټپه ده۔ ټپې ته مصرعه او لنډۍ هم وائي۔ دَ پښتو ادب پوهانو د ټپې رنګ رنګ تعریفونه کړي دي خو مختصراً ټپه د یوې نیمې مصرعې شعر ته وائي چې اوله مصرعه ئې د نهه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12
ماخذ تحقیقی مجلہ

سیلابه او دوېمه مصرعه ئې د دیارلس سېلابه وي. د پښتو ټپې په حقله پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین په خپل کتاب "روهي سندرې" کښې لیکي چې:

"د ټپې یا لنډۍ د شاعر یا شاعرۍ د نوم او مقام په حوله څوک په دعویٰ سره څۀ نۀ شي وئیلے ۔ دغه شان ددې د زمانې او دور تعین هم نه شي کېدے ۔ بیا هم دا خبره هر چاته معلومه ده چې د پښتو سندرو دا قدیم ترین صنف د پښتو اولسی ادب په ټولو دو رونو کښې هم په یو انداز ژوندے او مقبول پاتې شوے دے ۔ او پۀ خپل اصلي حالت کښې اوس هم هغسې موجود دے۔[2]

دَ پښتو ټپې باره کښې یو بل نامتو لیکوال پروفېسر محمد نواز طائر صېب په خپل کتاب "روهی ادب" کښې لیکي چې:

"پشتو ٹپہ ابتداء ہی سے اپنے ماحول اور عوام کے افکار وجذبات کا ترجمان رہا ہے۔ عوامی شاعری کی یہ صنف جو پشتو لوک گیتوں اور ادب کے متعدد اصناف میں سے ایک ہے قدامت کے لحاظ سے ان گزشتہ اور قدیم ادوار کی یادگار ہے۔ یہ پشتو شاعری کی ایک ایسی

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12
ماخذ تحقیقی مجلہ

*مخصوص طرز ہے جس کی دوسری زبانوں کے ادب میں کوئی مثال نہیں۔ یہ سراسر عوامی چیز ہے اور کوئی بھی شاعرہ یا شاعر اس پر اپنا دعوی ثابت نہیں کر سکتا۔ "[3]*

ژباړه: پښتو ټپه د اول نه د خپل ماحول او د عومو د خیالونو او جذبو ترجمانه پاتې شوې ده ۔ د عوامی شاعرۍ دا صنف کوم چې د پښتو د اولسي سندرو او په صنفونو کښې هغه صنف دے کوم چې د لرغونتوب د لحاظه د زړو دورونو یاد ګار دے دا د پښتو شاعرۍ یو داسې مخصوص طرز دے چې د نورو ژبو په ادب کښې ئې مثال موندے نۀ شي دا بیخي عوامي خیز دے او یو شاعر یا شاعره په دې خپله دعوىٰ نۀ شي ثابتولے۔

که څوک غواړي چې د پښتنو د خوئ بوئ، راشه درشه، دود دستور، پټي کټي، لو لور، غرسمه، تربګنو او جرګو مرکو نه ځان په ښه شان خبر کړی نو هغه دې ارومرو د پښتو ټپې ژوره مطالعه اوکړي۔ د پښتو ژبې او ادب پوهاند پروفیسر داور خان داود د ټپې باره کښې لیکي چې:

"غرض دا چې د اولس د ژوند یو اړخ هم داسې نشته چې د هغې په حقله به ټپې نۀ وي یا به دومره کمې وي چې د نشت برابرې وي ۔ پۀ هره موضوع او په هر مضمون دَ ټپو

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

دفترونه لیکلې شوې دي. وئیلې شوې دي او د اولس په ذهن کښې پاتې شوې دي"[4]

دَ پښتو ټپې لمن پراخه ده او د پښتنو دَ ژوند سره تړلي پۀ ټولو واقعاتو راخوره ده. حقیقي مینه، مجاذي مینه، د وصال خوندونه، د هجران غمونه، هجره او رباب، د سپرلو ګلونه، دَ خزانه بادونه، جمات او محراب، ساقي او شراب، ملا او ثواب، کالي او پترى، ګودر او منګي، غر او ابشار، چینه او چنار او داسې نور ډېر بلها موضوعات دي چې د پښتو ټپې لمن ترې ډکه پرته ده ولې زمونږ موضوع په پښتو ټپه کښې د توهم پرستۍ سره دے نو مناسب به دا وي چې خپلې موضوع له راشو.

توهم پرستي:

په داسې کارونو، څیزونو یا خبرو یقین کول چې د حقیقت سره یې څه کار نۀ وي توهم پرستي بللې شي. دین اسلام د هر قسم توهم پرستۍ نه پۀ سختۍ سره منع راوړې ده. ګټه او تاوان ورکونکے ذات د الله پاک دے. دَ الله پاک د حکم نه بغیر، نه ستوري څه کولې شي، نه کوډې منترونه، او نه مزارونه. علامت محمد اقبال په خپل یو شعر کښې فرمائي:

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

ماخذ تحقیقی مجلہ

"ستارہ کیا تیری تقدیر کی خبر دے گا

وہ خود فراخی افلاک میں ہے خوار و زبوں۔[5]

پروفېسر ډاکټر سلمیٰ شاهین د توهم پرستۍ په حقله لیکي چې:

لا علمه او بې خبره انسان دَ خپلو آرزوګانو، مصیبتونو کشالو، او مشکلاتو د یقیني یا غېر یقیني کولو د پاره څهٔ خبرې، څه نخښې نخښانې او مشاهدې وضع کړې دي.

لکه په خوب یقین کول، کوډې روډې، سپیلني لوګے کول، نظرماتې کول، په بابا ګانو ورغورځېدل، دَ طالب یا ملا نه بندونه تعویزونه اخستل، دَ موسم عمل، شپه او ورځ سپېره او بختوره کېدل. د سر زړوکو ورځ، رنګونه، موسمونه او وختونه مقررول او دغه شان ئې د یو کار یا یوې پېښې او د هغو تر مّېنځه ربط راوستې شي. دغې باور او یقین کولو ته په حقیقت کښې توهم پرستی وئیلے شي"[6]

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

اګر چې د تعلیم د زیاتوالي او د سائنس د ډیرې ترقۍ په وجه په دغه خبرو یعنی (توهم پرستۍ) کښې کمې ضرور راغلے دے ولې نن هم په پښتنهٔ ټولنه کښې پهٔ دي یو شتمه پیړۍ کښې اوس هم داسې یو شمېر نر او ښځې شته چې په دغه ناولې کار کښې بوخت دي۔

پښتانهٔ په توهم پرستۍ کښې تر څه حده ککړ دي د ټپې په رڼا کښې ئې جاج اخلو ۔

➢ د کارغه اواز په فال نیول:

کله چې کارغه د چا د کور په بلۍ کینې او اوازونه کوي نو ددې نه دا مطلب اخستې شی چې دغه کور ته مېلمانهٔ راروان دي۔ یا کارغه چې د چا په کور په هوا تېرېږی او اوازونه اوباسي نو دا په دغه کور واله دَ مېلمه د راتلو زیرے کوي۔ په پښتو ټپو کښې ددې وهم اظهار داسې شوے:

کارغه اواز کړو ته رانغلې
ما د کارغه نعرې په فال نیولې دینه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12
ماخذ تحقیقی مجلہ

رب دې د لرې راروان که
په فال دې نيسم د کارغونو اوازونه[7]

کارغه غونډۍ باندې نعرې کړي
راته ښکاريږی چې اشنا سبا راځينه
کارغه وزر به دې دَ سرو کړم
که راله راوړې د جانان د خوا حالونه[8]

➢ په زيارتونو ګرځېدل:

په زيارتونو ګرځېدل او د زيارتونو نه خپل مرادونه غوښتل د اسلام له رويه ناروا عمل دے. او لويه ګناه ده. په پښتنه خاوره، مختلف زيارتونه يا بابا ګان د بېلا بېلو غرضونو د پاره مشهور دي. څوک نعوذ باالله بې اولادو له اولاد ورکوي. څوک دانې او زخې ښه کوي او چا د مال و دولت ذمه په خپل سر اخستې په پښتو ټپو کښې ئې مثالونه اوګورئ.

سحر برګے خادر په سر کړی
د ماسخوتنه پورې کچ کړي زيارتونه[9]

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

ماخذ تحقیقی مجلہ

که پير بابا درله درنه کړم
نامرده ياره ما به خدئے نه درکونيه[10]
پيره کامله رارسېږه
ببړئ شوه غرقه په تخته ولاړه يمه[11]
په پير بابا به ورغوړېږم
که مې قبول کړي دا لنډي لنډي سوالونه[12]

- سپيلني لوګے کول:

سپيلني په پښتانۀ معاشره کښې چا ته د نظر نه د بچ کېدو د پاره يا چې څوک د نظره شوے وي هغوئي ته لوګے کېږي۔ خوشحال خان خټک په خپل کتاب "طب نامه" کښې فائده د سپيلني" د عنوان لاندې ليکي چې:

سـپيلنے دارو دى جانـه
نـه شـتـه ښـه دارو تـر دانـه
کـه ديـوان وى کـه پېريـان وى
هميشـه پـه دا امـان وى
پـه خوړلـو هـم پـه سـوولو
سـودئي ډېـر دے تـر وئيلـو[13]

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

دَ بد نظر نه د بچ کېدو د پاره د بېلګې په طور د پښتو دا ټپه اوګورئ۔

سېر سپیلني ورته لوګے کړئ
زیارت له تلی چا به ئې مخ لیدلے وینه[14]

- تور چېلے حلالول:

په پښتنه ټولنه کښې تور چېلے د صدقې او شکرانې د پاره حلالولے شی۔ د مثال په طور د پښتو دا ټپې واخلئ:

جانانه تور چېلے حلال که
خښنې اوشو په کاله دې پاتې شومه
جانانه تور چېلے حلال که
خښنړے اوشو په چمکې دې پاتی شومه[15]

- تعویذونه کول:

پښتانۀ د خپلو مقصدونو د حاصلولو د پاره د تعویزونه سهاره هم اخلي د تعویذونو هم بلها قسمونه دي مثلاً د ویرې تعویذ، د سر درد

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

تعویذ ، د نوم (ناف) د پرېوتو تعویذ ، په کاروبار کښې د برکت د پاره تعویذ ، د نظر تعویذ ، د پېریانو نه د حفاظت تعویذ ، او داسې نور ډېر- او لکه څنګه چې د تعویذونو بلها قسمونه دی دغه شان تعویذ لیکونکي هم څه کم نه دي- مثلاً د جمات ملا ، طالب، پیران، سېدان، میا ګان او داسې نور ډېر خلق-

پښتانۀ او بیا په تېره تېره پښتنې زنانه اوس هم په تعوېذونو یقین ساتي او کوي د تعوېذونو په حقله د پښتو دې څو ټپو ته ځېر شئ:

سر مې نرے نرے خوږېږی
ماله تعویذ د نیم سیری اوکړه مئینه[16]
د مخ هډوکی مې وراسته شو
اشنا له چا اوکړل د صبر تعویذونه[17]
تعویذ اثر درباندې نه که
اوس مې نېولې ستا د پاره زیارتونه[18]

- په سر توره ښېرې کول:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12
ماخذ تحقیقی مجلہ

په دین اسلام کښې داسې څه خبره نشته چې څوک چا ته په سر توره ښېرې یا دعا اوکړي هغه به ضرور قبلیږي ۔ پښتانه د سر تور سر له ښېرې ډېر ویریږي او ځان ترې ساتي:

"خدایه سر تور درته ولاړیم
د خپل اشنا د خپلېدو کوم سوالونه[19]
ما یارانه کله کوله
سر تور ولاړ وي له ښېرې دې ویریدمه[20]

- د مازیګر ښېرې:

د پښتو ټپې په رڼا کښې دا خبره ډاګې ته کیږي چې "پښتانۀ مائیګر" د دعا او خېرو د قبلېدو وخت ګڼي ۔ لکه دا ټپې:

مازیګرے دے ښېرې مکړه
ته به دنیاز ښېرې کوې رښتیا به شینه
مازیګرے دے ښېرې مکړه
د مازیګر ښېرې کمرې نړوینه[21]

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

➢ په خوبونو يقين كول:

اګر چې نزدې نزدې هر سړے دا خبره مني چې د خوبونو د دنيا د حقيقت سره څه کار نشته خو ولې بيا هم په ښۀ خوب ليدو خوشحاليږي او په بد خوب ليدو غمژن کيږي ـ داسې هم وئيلے کيږي چې د خوب تعبير ثوک ښنګه اوباسي هم هغسې معامله ورسره کيږي پښتانه ځکه خپل بد خوبونه چاته نه بيانوي او د خراب خوب په ليدو صدقه هم ورکوي:

بېګاه مې خوب ليدو رښتيا شو
جانان په ويخه په ما واچول لاسونه
بېګاه مې داسې خوب ليدلے
د سر زړوکے رانه سپو اوتښتونه
بېګاه مې مړ په خوب ليدلے
سحر مې سرو شونډو پترې نيولې ونه[22]

په پښتنه ټولنه کښې ددې نه علاوه هم يو شمير توهمات دي ـ د مثال په توګه د صفرې په مياشت کښې کويژدن ودونه نۀ کول، د نهی ورځ منحوسه ګڼل ـ د چرګې بانګ بد شګون ګڼل، د نظر نه د بچ کېدو د پاره د

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

وړوکي ماشوم په مخ د رنجو کراس راښکل، د بد نظر نه د بچ کېدو د پاره په کور کښې زرکه ساتل، دغه شان د بد نظر نه د بچ کېدو په غرض د نوي کور په اوچت ځائےسپیاکه یا زړه څپلۍ زوړندول۔ د نوي ګاډي اخستونه پس د ګاډی مخي ته توره چرګه حلالول، په کور کښې د ماښام نه پس جارو نه وهل، په کور کښې د جولا جالې د کور د سپیره کولو ذریعه ګڼل، د نظر نه د بچ کیدو د پاره چاته لاړي توکل د تورو سترګو او شنو سترګو نظر ماتول، او داسې نوري ډېرې خبرې او کارونه اګر چې د علم د زیاتوالي او شعور را تلو په وجه کمې شوي ضرور دي خو ولې اوس هم ډېر پښتانه په دغه بې بنیاده خبرو یقین کوي۔

## حوالې

1 شاهین سلمیٰ، ډاکټر، روهی سندرې، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورستي، ۲۰۱۳ء، مخ ۵
2 هم دغه اثر- ص-۱۰
3 طائر، محمد نواز، روهی ادب، پشتو اکیډیمی پشاور یونیورستي، ۱۹۸۷ء ، مخ ۹۰
4 داؤد، داور خان ، پښتو ټپه، جدون پرنټنګ پریس پېښور ، ۱۹۹۹ء، مخ ۴۳

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12
ماخذ تحقیقی مجلہ

5 اقبال، علامه محمد ، بانگ درا ۔ رابعه بک هاوس الکریم مارکیټ اردو بازار لاهور س۔ن۔ ص-۲۸۵
6 شاهین سلمیٰ، ډاکټر، د پښتو ټپې، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۸۸-۸۹ء، مخ ۸۵
7 هم دغه اثر – مخ - ۸۶
8 شاهین سلمیٰ، ډاکټر، روهی سندرې، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، ۲۰۱۳ ء، مخ ۵۳۵
9 هم دغه اثر – مخ - ۴۷۲
10 هم دغه اثر – مخ - ۵۴۲
11 هم دغه اثر – مخ - ۱۵۶
12 شاهین سلمیٰ، ډاکټر، د پښتو ټپې، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۸۸-۸۷ء، مخ ۸۵
13 ختټک، خوشحال خان، طب نامه،پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۵ء، مخونه ۸۸، ۸۹
14 شاهین سلمیٰ، ډاکټر، دپښتو ټپې، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۹-۸۸، مخ ۸۷
15 شاهین سلمیٰ، ډاکټر، روهی سندرې، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۳، مخ ۱۸۹
16 هم دغه اثر، مخ ۸۶
17 هم دغه اثر، مخ ۳۴۹
18 هم دغه اثر، مخ ۱۶۴
19 هم دغه اثر، مخ ۲۵۶
20 هم دغه اثر، مخ ۵۹۵

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-12

**21** هم دغه اثر، مخ ۵۹۰
**22** هم دغه اثر، مخ ۹۰